مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه‌ولی ارین

۲۰۲۶/۰۳/۱۶

# د پاکستان کرايي پوځ

## (شپږمه او وروستۍبرخه)

هر هغه هېواد چې تاريخي واقعيت، کلتور او فرهنګ ونه لري او په تصادفي توګه د استعماري تاقتونو له لورې په سيمه کې د خپلو موخو د لاسته راوړلو په خاطر زيږول شوي وي، هغه نه خپل ولسونو ته او نه هم خپل هېواد ته خدمت تر سره کولای شي، ځکه د خرڅ شوو مشرانو په غاړو کې د سپي په شان رسۍ د هغوي د بادارانو په لاس کې وي او د خورا کمو امتيازاتو د لاسته راوړلو له پاره هره خواته غاپي او خولې اچوي.

د پاکستان د جابر نظام او کرايي پوځ نه ځکه ګيله په کار نه ده، ځکه چې د پرديو پر لاس جوړ شوي او د پرديو د ګټو او ستراتيژيو دعملي کولو له پاره کار کوي، خپل ولسونه او غير پنجابي مليتونه يې د فقر، بدبختيو او نورو بشري او انساني ناورينونو سره مخ کړي، په خاصه توګه پښتانه، بلوڅ او سينديان چې دوي په خپلو سيمو کې د خپلو مادي او معنوي وسايلو او ارزښتونو اختيار نه لري او د دوي له دغه ټولو امکاناتو نه يوازې پنجاب او پنجابيان ګټې تر لاسه کوي.

اوس مهال چې پاکستان له څو اړخه له سترو ستونزو سره لاس او ګريوان دي ، دننه په پاکستان کې د پښتنو ورځ تر بلې ازادي غوښتونکی روحيه لا پياوړی کيدو لور ته روانه ده، د منظور پشتين په مشرۍ د پښتون ژغورنې غورځنګ په هېواد دننه او بهر کې د پاکستان د ناروا کړنو تصوير نړۍ او په هېواد کې دننه ولسونو ته څرګندوي، چې کرايي پوځ يې ډېر نارامه کړي دی، له بله پلو د بلوڅانو ازادي غوښتونکی غورځنګ چې په يوه نطامي ځواک بدل شوي ورځ تر بلې پر نظامي مرکزونو بريدونه تر سره کوي، همدا ډول پاکستاني طالبان چې د مولانا فضل الرحمن له قوله هغه وايې:

«په ټوله پښتونخوا او کوټه کې د شپې له خوا پاکستاني طالبان حکومت کوي». ريښتيا هم ليدل کېږي چې پاکستاني طالبان ورځ تر بلې نظامي مرکزونو او تانو باندې بريدونه ترسره کوي د يوه راپور له مخې، چې د ۲۰۲۵ کال وروستۍ برخه باندې راڅرخي ويل کېږي چې، په دغه موده کې د (ټيټيپي) له لورې تر ۲۱۰۰ نه ډېر بريدونه ثبت شوي دي. د ټول کال په اوږدو کې دا شمېره له ۳۵۰۰ څخه اوړي.همدا ډول ټول پاکستاني عام ولس د پوځ او جابر حکومت د ناروا سياستونو له امله سخت ناراضه دي، چې دغو پورتنيو لاملونو پاکستان له سخت نظامي، سياسي، ټولنيز او اقتصادي بحران سره مخ کړی دي، نو ځکه که چېرې د خپل ولس او افقغانستان په اړه په خپلو پاليسيو کې مثبت بدلون را نه وړي، د ټوټه کيدو امکانات يې را نږدې دي.

پاکستان په ورستيو څو کلونو کې چې نور يې د چل او فريب سياستونه غرب او امريکا ته روښانه شول او د دوي مرستې او امکانات پرې بند شول له سختو اقتصادي ستونزو سره لاس او ګريوان دي، چې د دغو پراخو اقتصادي فشارونو، ګنو سياسي بې ثباتيو او د لويو ټولنيزو کړکېچونو سره مخ دی، نو ځکه يې د امريکا په غو ښتنه او له بله پلوه د خپلو مجبوريتونو نه د ځان د خلاصولو له پاره د امريکا پر اشاره پر افغانستان تبليغاتي او نظامي جګړه پيل کړي ده.

پاکستان په نړيوال ستيج کې د طابلنو د نه شتون او انزوا نه خورا ګټه پورته کړي او د خپل بام واورې يې پر افغان حکومت اچوي، نارې، سورې يې پيل کړی چې ګويا په افغانستان کې د افراطيت مرکزونه ورځ تر بلې تقويه کېږي، چې دا نړۍ ته ستر خطر او ګواښ دي، همدا ډول په دغه رابطه يو شمېر نورو هېوادو ته هم لکه چين، تاجکستان، سعودي عرب لابيګری کوي تر څو د افغانستان پر ضد دغه تبليغات پراخ کړي او د نړيوالو پام ورته را واړوي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

پاکستان په افغانستان کې د جګړې د دوام له پاره د بیلابیلو پلمو نه کار اخلې تر څو جګړه نوره هم په سیمه کې نا امني را منځته کړي او د دوي غوګاني بیا پر شدو راشي، غرب او امریکا نه بیا مرستې د افراطیت او تیروریزم سره د مبارزې په پلمه تر لاسه کړي، خو دغو منفي سیاستونو په تېره کې هم ښه پایله نه لرله او نتیجه یې همدا ده چې اوس پاکستان ورسره لاس او ګریوان دی.

که پاکستان په رښتیا هم غواړي آباد، هوسا او له اوسني اقتصادي ناورین نه په بریالیتوب راووځي، نو ضروري ده چې د افغانستان په اړوند په خپلو پالیسیو کې مثبت بدلون راوړي، په خپل ګنډ کې یو خپلواک، آزاد، هوسا او د خپلي ارادې او پرېکړې څښتن افغانستان وزغمي؛ ځکه په دې سره به نه یوازې چې افغانستان او پاکستان هوساینې ته ورسېږي، بلکې د افغانستان له لارې به سویلي آسیا له جنوبي آسیا سره ونښلول شي د سیمې سیاسي او اقتصادي ثبات به هم نور ورسره وغوړېږي او د پاکستان اقتصادی ستونزې به هم ورسره مخ په ختمیدو شي.

پاکستان باید په دې پوه شي چې جګړه د هیچا په ګټه نه ده، افغانان په جګړه کې را لوی شوي او د جګړو تاریخ یې ټولي نړۍ ته معلوم دی. د پاکستان او افغانستان دغه روانه لانجه او جګړه ممکن دواړو هېوادو ته مالي او ځاني زیانونه ولري، خو د پاکستان د کړایي پوځ دغو غیر انساني او غیر اسلامی تجاوز د افغانستان په مقدس حریم د طالبانو حاکمیت او افغان ولس ته لویه ګټه ورسوله؛ ځکه د یوه تاریخي دښمن پر وړاندې یې تر بل هر وخت افغانان سره متحد کړل او په یو غږ ټولو افغانانو په هېواد دننه او له هیواده بهر د پاکستان دغه عمل وغنده او د خپل هېواد د جنګیالیو نه یې خپل ملاتړ اعلان کړ، د دې تر څنګ یو شمېر زیاتو افغانانو چې د طالبانو د پالیسیو په رابطه له نظام سره همغږي نه دی، حتا دوي هم د پاکستان تجاوز وغانده او خپل ملاتړ یې اعلان کړ، چې دا د پردیو د تجاوز په مقابل کې د ټولو افغانانو د یو موټي کیدو او هیواد پالني لوړ معیار او احساس دي.

بل یو مهم اوښکاره حقیقت هم هیواد والو ته څرګند شو چې د پاکستان او افغانستان په روانه جګړه کې یې خپل پر هېواد او ولس مین انسانان ښه و پیژندل او هم دوي ته د هغو هېواد پلورونکو ملی خائنانو څېرې او هویت نور هم لا بربنډ شو، چې د هېواد په دغو سختو شیبو کې د پاکستان تر څنګ ودریدل او د پاکستان د ظالمانه تجاوز ملاتړ یې وکړ، افغان ولس باید د خپل هېواد دغه تاریخی دښمنان هیڅکله هېر نه کړي.

د پاکستان د بریدونو پر وړاندې د طالبانو ځوابي بریدونه، مقاومت او سرښندنې، د ډیورنډ د کرښي ساتنه او په هکله یې د طالبانو دریځ په کور دننه او بهر کې د طالبانو دریځ او اعتبار لوړکړ، اوس نو طالبانو ته په کار ده چې د هیواد د ساتنې، بقا او د ولسونو غوښتنو ته چې د اوسني زمان اړتیا هم ده لاندې ټکو ته پاملرنه وکړي:

نړیوالو سره تعامل او ښې اړیکي تامینول د فعالي ډیپلوماسی له لارې د بهرنیو چارو وزارت باید د پاکستان د شومو پلانونو د شنډولو له پاره په سیمه ایزه کچه فعاله لابي ګري پیل کړي او باید نړۍ ته په پاکستان کې د ترهګرو ډلو د مرکزونو او د مخدره توکو د کښت په اړه مستند اسناد وړاندې کړي.

د کورني امنیت په برخه کې له ګاونډیو هېوادو سره د سرحدونو په برخه کې قوتونه زیات کړي په خاص ډول د ډیورنډ د فرضي کرښي او له ایران سره د سرحدونو کلکه څارنه او د قوواو زیاتول اړین دي، تر څو د داعش اونورو افرطي ډلو مخنیوی وشي.

د دفاعی بودجي ډېروالی او له هرې لارې چې ممکن وي د عصري او پرمختللو وسلو تر لاسه کول، اردو، هواي ځواک او نور وسلوال قوتونه پیاوړي کول چې د وخت اړتیا هم ده.

د ولس باور او لا نور اعتماد ترلاسه کول، تر څو ولس نور هم د نظام تر څنګ د یو پولادي دېوال په څېر ودرېږي، دا هغه وخت کیدای شي چې د ولس مشروع غوښتنو ته پاملرنه وشي، د ولس په دغه جګړه ایز وضعیت کې له خپل نظام سره دریدل دا غواړي او ارزښت یې لري، چې د نوي درسي کال له پیل سره د ټولو ښوونځیو دروازې د نجنو پر مخ پرانستل شي.

دا یې وخت دی چې طالبان د خپل داخلي مشروعیت په خاطر او هم د پاکستان د تجاوزنو په هکله د ولس نه د مشورې د تر لاسه کولو په خاطر لویه جرګه راوغواړي اولا زیات نور هم د ولس اعتماد او پیاوړي ملاتړ تر لاسه کړي.

زما په اند د پاکستان سره د سولي په خبرو کې ډېر احتیاط په کار دی، ځکه، هغوي هیڅ د اعتبار او اعتماد وړ نه دي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ